# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
|---|---|



رضا فرمند
ژباړه: فرهاد ویاړ


## مور مې وخت پیدا نکړ

مور مې وخت پیدا نکړ.
چې **کلیمه** وپیژني
او د خپلې چوپتیا د تشې ژورتیا څخه
د آسمان تر خیال پورې
راووځي.

***

مور مې وخت پیدا نکړ
چې د حافظ او خیام د شعر سره سرمسته
د جهل او تعصب په کوڅو کې
کوکاره وکړي.

***

مور مې
وخت پیدا نکړ
د خپلې هوښیارۍ الماس
د **کلیمې** په پتنوس کې
ښار په ښار وګرځوي.
او ناپوهه جګړه ماران
د تجربې په محک
مختوري کړي.

***

مور مې
وخت پیدا نکړ
د خلاصون پرتمین حس
تجربه کړي؛
او د خپل ښایست غبرګون
د نارینه وو په تعجب او کتنې کې
ننداره کړي.

***

مور مې وخت پیدا نکړ
د **کلیمې** په پړې سره
د مذهب له ژورتیا
تر اوبو او ډبرې او ستورې پورې
هسکه شي
نړۍ لمس کړي
ژوند وپیژني
او په خپل لوي او ګران حس باندې
ایمان راوړي.

***

مور مې وخت پیدا نکړ
دا ساده خبره
په **کلیمه** کې ولولي:
- چې تر ټولو مقدسه ده!

***

مور مې وخت پیدا نکړ
د خبرو درمن
د **کلیمې** په غلبیل
چڼ کړي
او د پوهې له ځلانده دانو ډکه
د غرور امیل
پر غاړه واچوي.

۱۹۹۱